UNAMA
SRSG Briefing
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

# د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د افغانستان لپاره د عمومي منشي ځانګړې استازی تدامیچې یاماموتو لنډ ګزارش

[څرنګه چې ورانديې شوی]

## نیویارک، ۱۷ ډسمبر ۲۰۱۷

***

ښاغلي رئیس، د امنیت شورا درنو غړو،

څرنګه چې دغه کال مخ پر ختمیدو دی، موږ لا اوس هم د افغانستان په اړوند د هغه مسلې د حل لپاره هڅه کوو کوم چې د هغه په اړوند ډیره اندیښنه لرو : د سولې لپاره یوه داسې د قناعت وړ پروسه چې څلویښت کلنه جګړه پای ته ورسوي، کوم چې د وګړي ۳۹ سلنه یې د بیوزلی تر خط لاندي راوړي، او په هغه کې ۳،۳ میلیونه وګړي په ژوره توګه د بشرپالنې مرستو ته اړتیا لري. ما په دغه شورا کې یو کال مخکې پر ټولو افغانانو باندي غږ وکړ چې سره راټول شئ او د خپل ګډ راتلونکې لپاره لاره وموندئ. په ورته حال کې ما د سیمې پر هر هیواد باندي هم غږ وکړ چې په افغانستان او همدارنګه په سیمه کې د سولې په خاطر د یو ممد چاپېریال د رامنځته کولو په خاطر مرسته وکړي. موږ باید د ژمي د موسم د وخت څخه، کله چې د جګړې کچه راټیټه کیږي، ګټه واخلو او دغه مسله پر مخ بوزو او مخکې لدي چې راتلونکې پسرلی کې د تاوتریخوالې دوره بیا له سره پیل شي.

دا په څه ډول کیداي شي؟ د کابل پروسې غونډه د فبروري د میاشتې په لومړي نېټه پیل کیږي چې یو ښه فرصت دی. تمه کیږي چې په دغه ناسته کې د افغانستان حکومت د مخالفو وسله والو ډلو سره د سیاسې حل لپاره خپله ستراتیژیکه تګلاره بیان کړي او په ورته حال کې د نړیوالې ټولنې څخه د مرستې او ملاتړ غوښتنه هم وکړي. دغه فرصت باید له لاسه و نوځې. د افغانستان حکومت او نړیوال برخوال باید پر دې ټکې باندي تمرکز وکړي چې په څه ډول راتلونکې کال کې د تاوتریخوالې کچه را کمه کړي. همداراز موږ باید د سولې لپاره د یو ښه ډیالوګ د پیل په لټه کې هم شو. زه یو ځل بیا پر طالبانو غږ کوم چې د سیاسې جوړجاړې په موخه د خبرو اترو لپاره روښانه اراده څرګنده کړي تر څو لومړنې ډیالوګ پیل شي.

زه په افغانستان کې د سولې د تامین لپاره د سیمې هیوادونو تر منځ د پراخو صلاح مشورو له امله هر کلي کوم. د سیمې هیوادونه دا منې چې دوي د افغانستان په راتلونکې کې ګډه ونډه لري. خو باید وویل شې چې لازمه ده چې هر ډول سیمه ییزه هوکړه باید د یوې روښانه پالیسې پر بنسټ رامنځته شي. همدارنګه اړتیا ده چې د سولې لپاره سیمه ییز هڅې یو موټې شي. له دې امله د کابل پروسې په کنفرانس کې د افغانستان حکومت وړاندیز د زیات اهمیت وړ دی.

یوه بله ډیره مهمه مسله په راتلونکي کال کې پارلماني ټاکنې دي چې تر هغه وروسته د ۲۰۱۹ کال د اپریل په میاشت کې د ولسمشریزې ټاکنې ترسره کیږي. د منلو وړ، باوري او پر وخت ټاکنې ترسره کول د اساسي قانون د اوامرو پر ځای کول او د یو استازی حکومتوالۍ سیستم باندې باور لپاره بنسټیز او اړین دي.

که په صداقت ووایو، د ټاکنو د تیاري لپاره کافي پرمختګ ندی شوی. د پرمختګ نشتون، او د ټاکنو د برخوالو له خوا کلک انتقاد، د دې لامل شو چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون رئیس ته د لېرې کیدو رایه ورکړي. کمیسیون ته لازمه ده چې د خپل اعتبار د بېرته تر لاسه کولو په خاطر، د ټاکنو د تیاري په کار کې ښه پرمختګ تر لاسه کړي.

د یو مثبت یادونې په توګه، په پای کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ډسمبر د میاشتې په ۶ نېټه هغه کړنې اعلان کړ چې د رایو ورکوونکو د نوم لیکنې په بهیر کې به ترې کار واخلي. که چیرې د پلان سره سم پلې شي، دغه پروسه به د لومړې ځل لپاره د واحد بشپړ رایه ورکوونکي نوم ثبتول او همدارنګه د رایو ورکولو د ځایونو پر اساس د لستونو بر مبنی به وي. دا به په زیاته پیمانه د هغه درغلۍ کچه راکمه کړي کوم چې د زیات شمېر ویشل شویو رایو اچولو صندوقونو د شمېر د کمولو له لارې ترلاسه کیږي. د ملګرو ملتونو د تخینکي ملاتړ ډله له نږدې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون سره، د رایو ورکوونکي ثبت عملیاتې چارې په اړوند، کار کوي او د کمیسیون سره د هغه په پلي کولو کې مرسته کوي که څه هم دغه پروسه، په نهایت کې، باید د افغان نهادونو په مالکیت او تر مشرۍ لاندې ترسره شي. همدارنګه زه غواړم روښانه کړم چې امنیت یو مهم تعریفي شاخص دی چې ټولیز او باوري ټاکنې ډاډمنوي. د افغانستان حکومت اړ دی چې د دغه دیموکراتیک عمل لپاره دقیق امنیتي پلان ولري.

یوناما به خپلو هڅو ته دوام ورکړي چې د ښځو سیاسي مشارکت پیاوړي کړی. په تېرو نږدې وختونو کې موږ په ټول هېواد کې د ښځو سره ۱۳ ډیالوګونه دایر کړي چې په هغه کې ښځو په کلکو الفاظو سره توضیح کړي چې په څه ډول د دوی د مشارکت، د رایو ورکوونکو او یا د نوماندانو په صفت، د اداری فساد، شخړه او محافظه کاره دودیز نورمونو له امله، د خنډ سره مخ شوي دي. د همدې تجربو پر بنسټ، ښځې یو لړ عملي سپارښتونه وړاندې کړي چې کولای شي د دوی پیاوړي ګډون، د ۲۰۱۸ کال او تر هغه وروسته ټاکنو کې، تضمین کړي.

ښاغلی رئیس،

د سختو جګړو د موسم برخلاف، د افغان امنیتي ځواکونو تېر نږدې هڅې چې غواړي د ملکي وګړو تلفات کم کړي، د ځمکنې شخرو پر مهال د ملکي وګړو وژنې او ژوبل کیدل کې د کمښت لامل شوی دی. خو لدې سره سره موږ د مخالفو ډلو لخوا د په لاس جوړ شوي چاودیدونکي توکي پرله پسې بې توپېره کارول، او همدارنګه د حکومتي ځواکونو لخوا د هوایي بریدونو له امله چې زیات ملکي تلفات اړولې دي، لا هم اندیښمن پاتې یو.

په عمومي ډول د ملکي وګړو د تلفاتو شمېر او کچه اوس هم خورا لوړ پاتې دی. همدارنګه زه د وسله والو ډلو، په ځانګړي ډول د داعش او طالبانو له خوا، په جګړه کې د ماشومانو د ګمارلو د اندېښنې وړ راپورونه تر لاسه کوم. زه ټولې خواوې هڅوم چې ژر تر ژره دغه ناقانونه عمل ودروي.

UNAMA
SRSG Briefing
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

د افغانستان ټاکنې د بشري حقونو شورا ته دا فرصت په لاس ورکوي چې ټول ملي نهادونه د نظامي نهادونو په ګډون، خپل عامه ژمنې ترسره کړي تر څو خپل نړیوال حقوقي مسؤلیتونه رعایت کړي وي. د لومړي ګام په ډول، زه د افغانستان حکومت هڅوم چې د شکنجې پر خلاف کنوانسیون اختیاری پروتوکول تایید کړي او د کنوانسیون په اړه خپل مشروط او د ملاحظې بند لېرې کړي.

ښاغلی رئیس،

موږ اکثراً د افغانستان د اقتصاد اغېزه پر ټولنې او جګړې باندي له پامه غورځوو. په ۲۰۱۴ کال کې د نړیوال پوځې ځواکونو کې ستر کمښت د افغانستان اقتصاد ته یې سخت ټکان ورکړ او د اقتصادي ودې کچه د ۱۰ سلنو څخه منفی ۲ سلنې ته را ټیټ کړ. تمه کېږي چې سږ کال، د دویم کال په ډول، د افغانستان اقتصاد مثبته وده ثبت کړی خو بیا هم د هغو ۴۰۰۰۰۰ افغان ځوانانو لپاره کافی نه ده کوم چې هر کال د کار مارکیت ته اضافه کیږی. په ورته حال کې ناقانونه اقتصاد هم وده کوي څرنګه چې په ۲۰۱۷ کال کې د ملګرو ملتونو د مخدره توکو د دفتر لخوا ثبت شوی، د تریاکو په کښت کې خورا زیاتوالې ښکاره کوي.

د مخدره توکو تولید او قاچاق د بلواګرو لپاره د تمویل ښه سر چېنه برابروي چې موږ ته لازمه ده چې پر دغه موضوع تمرکز او خپلې هڅې پیاوړي کړو.

د افغانستان د اقتصاد د لیدلوری د پرمختګ لپاره لازمه ده چې د ملي سولې او پراختیا کاری چوکاټ ملاتړ وشي. د ملګرو ملتونو ټوله کورنې په پر له پسې ډول سره د ولسمشر سره په خبرو بوخت دي تر څو د ملګرو ملتونو عمل لا پسې ښه کړاي شي، تر څو کاری چوکاټ ته ملاتړ چمتو کړي، پیسو ته ارزښت چمتو کړي او اغیزه ښکاره کړي.

حکومت هڅه کوي چې پر مرستو باندي اتکاء کمه کړي او د خپل مالیاتي سرچېنو بنسټ خوندي او پیاوړي کړي. د دغه کار عملي بڼې ورکولو لپاره اړتیا ده چې خصوصې سکتور وهڅول شې، اداری فساد او بیرکراسی کم کړي او داسې زیربناوي جوړ شي چې افغانستان ته دا فرصت ورکړي چې د خپل جغرافیایی مرکزی موقعیت څخه ګټه واخلې. کله چې یو ځل د پانګونې میکانیزمونه او زیربناوي فعال شې، د افغانستان منرالې سرمایې څخه ګټه اخیستل کیداي شي. همدغه تېر کال د زیربناو په پراختیا کې د پام وړ پرمختګ ترسترګو شوی دی، چې په هغه کې افغانستان د اروپا سره، د کسپین او قفقاز له لاري، بیا د عرب تر سمندر پوری، تړل په پام کې نیول شوي وو.

دا ډول پرمختګونه ښکاره کوي چې په څه ډول د ګاونډیو سره د افغانستان ښې اړیکې، د سوکالې لپاره فرصتونه برابروي. خو دې کې موانع هم شتون لري. زه په ځانګړي ډول د هغه نږدې تېر مودې د راپورونو په اړه اندیښنه لرم چې د افغانستان او پاکستان تر منځ د زیات پوځې عملیاتو په اړه وو. د دې پوځې عملیاتو له امله، یوناما یو لړ پېښې ثبتې کړي کوم چې ځایي خلکو ته زیان اړولې چې په هغه کې د ملکې وګړو تلفات، د ښونځیو تړیدل او د وګړو بېځایه کیدل شامل دي. زه د افغانستان او پاکستان حکومتونو باندي غږ کوم چې دوي د همکاري اغیزمن لاري وموې چې دا ډول مسلو ته رسیدګې وکړي، کوم چې په دواړه هېوادونو کې ملکې وګړي یې اغیزمن کړي دي.

ښاغلی رئیس،

د سیمه ییز همکاری په ډګر کې لاسته راوړنې هڅونکې دي. خو په سیمه ییز همکاری کې اصلې ګټې تر هغه مهاله لاسته نه راځې چې په افغانستان کې سوله او ثبات نوي. زه باور نلرم چې دغه خوځښت بېرته شاتګ وکړي. په راتلونکو څو میاشتو کې د ټاکنو په تیاری کې، د تاوتریخوالې د کمولو لپاره حقیقې، او د یو باور وړ د سولې پروسې په لور خوځښت کې خورا پرمختګ ترلاسه شي. د شخړی د دوره ای ځانګړنې له امله، هغه فرصتونه کوم چې په راتلونکې دریو میاشتې کې له لاسه ورکړل شوي دي، د ټول احتمال سره په راتلونکې کال کې له لاسه به ورکړل شي.

مخکې لدې چې خپلې خبرې پای ته ورسوم، د شورا د غړو څخه غوښتنه کوم چې د خپل مالې او سیاسې ملاتړ څخه په ګټه اخیستلو سره، د بشرپالنې د پلان شوي غوښتنې سره مرسته وکړي کوم چې د ۳،۳ میلیونو اړینو وګړو ته مرسته رسوي.

موږ وینو چې د سولې د غوښتنې باندي تمرکز ته اړتیا شته. ملګري ملتونه چمتو دی چې هر څه کولاي شي ترسره کړي، که د دغې مسلې اهمیت پړاګه کول وي، نن ما هڅه وکړه چې عملې کړم، د منځګړیتوب لپاره د ښو هڅو کارول، که چېري د هغه غوښتنه وشي. زه په یقینې ډول هیلمن یم چې د میلیونونو افغان وګړو د روان مصیبتونو  او ناښوالو سره همدردی، موږ ټولو ته به خوځښت ورکړي تر څو خپلې هڅې لازمي کړو چې سوله تر لاسه شي او د فرصتونو اهمیت، چې د اړین سولې د تړون څخه هغه خوا دی، تحقق و مومې.

ستاسو څخه مننه.

***

*یوناما له افغان ولس او دولت سره مرسته کوي څو سوله او ټیکاو ترلاسه کړي. د یوه سیاسي ماموریت په څېر د هغې له صلاحیت سره سم، یوناما د شخړو په مخنیوي او حل کې مرسته کوي، شمولیت او ټولنیزې همغږۍ ته وده ورکوي او دغه راز سیمه ییزه همکاري غښتلې کوي. ماموریت د موثرې حکومتولۍ ملاتړ کوي، ملي مالکیت او حساب ورکوونکو ادارو ته وده ورکوي کوم چې بشري حقونو ته د درناوي پر بنسټ جوړې شوي. یوناما د شخړې د رامنځته کیدو، زیاتیدو یا پراخیدو د مخنیوي په موخه د هغو ډیپلوماتیکو ګامونو په ګډون چې د ادارې پر خپلواکۍ، بې پرېتوب او ریښتینوالۍ متکي دي، د ښه نیت هڅې او نور کلیدي خدمتونه وړاندې کوي. ماموریت د افغان پراختیا او بشري لومړیتوبونو لپاره نړیوال ملاتړ همغږی کوي.*